سر یال نمبر: 462

بِسمِ اللّٰہِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم

دملت غږ

یووالی، ایمان، انضباط

# شمالي وزيرستان؛ خوارج د ناکامۍ سره مخ دي شپږ تنه ترهګر وژل شوي او ګڼ نور ټپيان دي

خوارج په سپين وام (شمالي وزيرستان) کې د امنيتي ځواکونو په پوسته د بريد پلان درلود. په وخت پېژندګلوۍ او سخت غبرګون کې شپږ ترهګر وژل شوي او ګڼ نور ژوبل شوي دي ـ وسلې، مهمات، د مخابراتي وسايلو او په وينو رنګ شوي چادرۍ ترلاسه شوي دي،



**د تفصيلاتو له مخې تيره شپه له 15 تر 20 خوارجو د امنيتي ځواکونو په پوسته بريد وکړ. په دندو کې مېشتو امنيتي ځواکونو په ډېر وقت سره د ترهګرو نقل و حرکت په وخت پېژندلي او د سپکو او درنو وسلو په مټ يې په نښه کړي او شپږ ترهګر يې وژلي دي. په داسې حال کې چې ګڼ ترهګر له ټپي کېدو سره تښتېدلي دي ـ**

**وژل شوی ترهګر شاه زمان ولد وزير اعظم د سيمې اوسيدونکی دی چې په ګڼو ترهګريزو فعاليتونو کې مطلوب و ـ**

په سپين وام او شاوخوا سيمو کې ميشت امنيتي منسوبين د وطن د ساتنې دنده په ميړانه سرته رسوي او د خوارجو لوی شمير يې دردونکي پای ته رسوي ـ انشاءالله د امنيتي ځواکونو د برياليتوبونو لړۍ به دوام ولري ـ

مورخه: ۱۵ فروری ۲۰۲۴ء